
# جنوبي وزيرستان: د امنيتي ځواکونو بريالي عمليات يو مطلوب بخارجي جهنم ته استول شوى

د جنوبي وزيرستان په جنډولا سيمه نسران کې امنيتي ځواکونو په يو لړ عملياتو کې يو مطلوب ترهګر وژلى دى۔

**د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو د ترهګرو د شتون په اړه د پټو معلوماتو په اساس، د ترهګرو پټنځاى محاصره کړى او د تېښتې لارې يې بندې کړې۔ د سختو ډزو په بدله کي ترهګر مشر غفران وژل شوى۔**






**د ترهګرو مشر غفران د مولوي بصير ډلې سره تړاو درلود، يو بدنام ټارګټ کلر چې د اتوماتيک بمونو په جوړولو کې مهارت لرو. د ترهګر غفران وژل بې له شکه د امنيتي ځواکونو لويه بريا ده۔**

په جنوبي وزيرستان کې ګمارل شوي امنيتي ځواکونه په پوره مسلکيتوب سره د خوارج په له منځه وړلو بوخت دي۔ انشاءالله د دوى وژنې به د خوارجو تر بشپړ له منځه وړلو پورې دوام ولري۔